Ministry for Ethnic Communities
Te Tari Mātāwaka

# داکسینګ (د شخصي مالوماتو بې اجازې افشا کول)

## داکسینګ (یا دکسینګ) څه شی دی؟

داکسینګ هغه وخت پېښېږي کله چې څوک ستاسو شخصي یا خصوصي مالومات پرته له اجازې آنلاین خپروي. دا مالومات کولای شي ستاسو بشپړ نوم، د کور پته، د ټیلیفون شمېره، د کار ځای، او حتی د کورنۍ د اړیکو مالومات شامل وي. ډېری وختونه دوی نور خلک هڅوي چې له دې مالوماتو څخه ستاسو د ویریدلو، ګواښلو، ځورولو یا وېرولو لپاره استفاده وکړي.

**که داکسینګ د بهرني هېواد په استازیتوب یا د دوي لپاره وشي، دا د بهرني مداخلې یوه بڼه ده.** د شخصي او خصوصي مالوماتو په عامه توګه شریکول کولای شي د فرد محرمیت، امنیت او خوندیتوب ته زیان ورسوي.

## که ستاسو شخصي مالومات خپاره شول (داکس شوئ)، څه باید وکړئ؟

### خپل کورنۍ او ملګرو ته خبر ورکړئ

که ځان مو آرام احساسوي، خپلې کورنۍ او دوستانو ته ووایاست چې څه پېښ شوي؛ ښايي هغوی هم هدف وګرځي. له هغوی وغواړئ چې خپلې ټولنیزې شبکې پروفایلونه خصوصي کړي.

### په هغه پلاتفورم/ویبپاڼه/اپ کې راپور ورکول چیرته چې پیښه شوې وي

په ویبپاڼه، اپلیکیشن یا پلاتفورم کې د راپور ورکولو فیچر وکاروئ چې پیښه پکې شوې وي. د نیتسیف (Netsafe) ټولنیزو رسنیو لارښودونه په دې اړه مالومات لري چې دا کار څرنګه وکړئ.

## راپور ورکول نیتسیف ته

تاسو کولی شئ زیانمنونکي منځپانګه نیتسیف ته راپور کړئ: درخواست ولیږئ – نیتسیف.
نیتسیف همدارنګه تاسو ته د انلاین خوندیتوب په اړه تخصصی ملاتړ، مشوره او مرسته درکولی شي.
په help@netsafe.org.nz بریښنالیک ولیږئ یا «Netsafe» ته پیغام په 4282 ولیږئ ترڅو مرسته ترلاسه کړئ.

## پولیس ته يې راپور کړئ

که په خطر کې یاست، سمدلاسه د 111 شمېره ووهئ او پولیس خبر کړئ.

که بیړنی حالت نه وي، تاسو کولی شئ پولیسو سره په لاندې ډول اړیکه ونیسئ:

- د 105 انلاین فورم کارول
- د هر موبایل یا ټیلفون له لارې 105 ته زنګ ووهئ، دا خدمت وړیا دی او 24 ساعته په ټول هیواد کې شتون لري.

د 105 فورمه ځینې شخصي مالومات غواړي ترڅو پولیسو ته ستاسو راپور پروسس کولو او تعقیب کې مرسته وکړي. **پولیس یوازې د قانوني موخو لپاره دا مالومات کاروي.**

## NZSIS (د نیوزیلېنډ د امنیتي استخباراتو خدمت) ته راپور ورکړئ

که شک لرئ چې د بهرني هیواد ستاسو د شخصي معلوماتو د خپرولو شاته دی، تاسو کولی شئ دا د NZSIS د خوندي انلاین فورمې له لارې راپور کړئ.

که نه غواړئ، نو اړتیا نشته خپل شخصي مالومات لکه نوم، د تلیفون شمېره یا د تماس مشخصات ورکړئ.
تاسو کولی شئ فورمه په خپله ژبه هم ډکه کړئ. ټول مالومات چې تاسو ورکوئ **محرم او خوندي** ساتل کېږي.

که غواړئ په NZSIS کې له یو چا سره خبرې وکړئ، تاسو کولی شي پدې شمېره 0800 747 224 یا +64 4 472 6170 زنګ ووهئ.

**هغه مالومات چې د راپور ورکولو پر مهال د نیتسیف، پولیسو یا NZSIS سره یې شریک کړئ**

د راپور ورکولو پر مهال ګټوره ده چې څومره امکان ولري، زیات جزئیات شامل کړئ. هڅه وکړئ چې د لاندې موارډو سکرین شاټ یا کاپي وساتئ:

- کوم شخصي یا خصوصي معلومات شریک شوي یا خپاره شوي دي؟
- د هغه شخص پروفایل یا حساب چې دا معلومات یې شریک کړي (لکه د هغوی کارن نوم)
- د مالوماتو د شریکولو یا خپرولو نېټه او وخت
- د ویبپاڼې یا اپلیکیشن نوم چې دا پېښه پکې شوې

## څرنګه کولای شو ځان د داکسینګ څخه خوندي کړو؟

**آنلاین کې خوندي اوسئ**
د نورو مالوماتو لپاره Keeping Safe Online ته مراجعه وکړئ.

**په آنلاین ډول د مالوماتو په شریکولو کې محتاط اوسئ**
د خپلو ټولنیزو شبکو او آنلاین حسابونو د محرمیت تنظیمات وګورئ. خپل حسابونه خصوصي کړئ ترڅو یوازې هغه کسان چې تاسې پرې باور لرئ، ستاسې مالومات لیدلی شي.

**په انټرنیټ کې د ځان په اړه لټون وکړئ**
خپل نوم او شخصي مالومات ولټوئ څو وګورئ چې کوم مالومات ستاسو په اړه عامو خلکو ته شتون لري. هر هغه شخصي او خصوصي مالومات چې نور یې ستاسو د زیان رسولو لپاره کارولی شي، لکه ستاسو پته، له منځه یوسئ.

**د موقعیت مکاني او جئوټګینګ (موقعیت موندنې) تنظیمات په خپلو وسایلو کې تنظیم کړئ**
هوښیار تیلیفونونه او کامرې ممکن ستاسې د موقعیت له تنظیماتو څخه په استفادې، د موقعیت مالومات په انځورونو کې ثبت کړي. دا مالومات کولای شي ستاسو د شخصي معلوماتو د موندلو لپاره وکارول شي، لکه ستاسو کور یا د اولادونو مکتب. د جئوټګینګ (موقعیت موندنې) یا د موقعیت مکاني تنظیماتو بندول په هر وسیله کې توپیر لري، نو د ځانګړو لارښوونو د موندلو لپاره آنلاین د خپل وسیله نوم ولټوئ.